
# د افغانستان د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ قانون د احکامو مقایسوي څېړنه



لیکوال: څېړندوی عمران زکریا

۱۳۹۸هـ ش

د افغانستان د تورنو، محکومینو د استرداد او
عدلي همکارۍ قانون د احکامو مقایسوي څېړنه

لیکوال: څېړندوی عمران زکریا

۱۳۹۸هـ ش

# Comparative Analysis of Provisions of Afghanistan Law on Extradition of Accused and Convicted Persons and Justice Cooperation

Author: Assistant Prof. Imran Zakaria

2019

ISBN 978-9936-645-46-2

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز

د روسیې او قفقاز انسټیټوټ

# د افغانستان د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ قانون د احکامو مقایسوي څېړنه

(څېړندوی علمي رتبې ته د ترفیع لپاره علمي – څېړنیزه رساله)

لیکوال: څېړندوی عمران زکریا

لارښود استاد: څېړنوال عبدالقادر سروري

۱۳۹۸ هـ ش

**د کتاب پېژندنه**

**دکتاب نوم:** د افغانستان د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ قانون د احکامو مقایسوي څېړنه

**لیکوال:** څېړندوی عمران زکریا

**اېډېټ او اهتمام:** څېړندوی عبدالخالق فردوس

**چاپ کال:** ۱۳۹۸ هـ ش

**چاپ شمېر:** ۵۰۰ ټوکه

**مطبعه:** چهاردهی صنعتی مطبعه

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د خپرونو او اړیکو ریاست

ISBN: 978-9936-645-46-2

**د چاپ حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست

**عنوان** **مخگڼه**

ابراز نظر پیرامون پروژه علمی – تحقیقی .................................... أ
محترم معاون محقق عمران زکریا عضو علمی مرکز مطالعات منطقوی .................أ
تقریظ .................................................................................. ج
تقریظ .................................................................................. ه
سریزه.................................................................................. ۱

**لومړی فصل**

د موضوع شالید ..................................................................... ۹

**دویم فصل**

د مجرمینو د استرداد پېژندنه او اهمیت یې .................................... ۲۳
لومړی: د مجرمینو د استرداد پېژندنه او تاریخچه یې ........................... ۲۳
دویم – د مجرمینو د استرداد اهمیت ................................................ ٤٦
درېیم – د مجرمینو د استرداد اصول................................................. ٤۹
څلورم: د مجرمینو د استرداد حقوقي سرچینې ...................................... ۷۱

**درېیم فصل**

د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ په قانون... ..................... ۸۵
لومړی: د مجرمینو د استرداد موخې او اساسي اصول .............................. ۸۷
دویم: د استرداد شرایط .............................................................. ۹۹
درېیم : د مجرمینو د استرداد کړنلاره (پروسه) ..................................... ۱۰۵
څلورم: د جرمونو په مخنیوي کې د مجرمینو د استرداد رول ...................... ۱۱٤

**څلورم فصل**

د افغانستان او نړۍ د نورو هېوادونو ترمنځ د مجرمینو د استرداد ....................۱۱۷
لومړی – د افغانستان او گاونډیو هېوادونو ترمنځ شوي تړونونه.......................۱۱۸
دویم: د افغانستان او نورو هېوادونو ترمنځ شوي تړونونه.............................. ۱۳۵

**پنځم فصل**

د ځینو هېوادونو په قوانینو کې د مجرمینو د استرداد څرنگوالی ..................... ۱٤۹

لومړی – د امریکا متحدو ایالتونو د مجرمینو د استرداد قانون ............................ ۱۵۰
دویم – د فرانسې د مجرمینو استرداد قانون .................................................. ۱۶۲
درېیم – د ۱۹۶۲ ز.کال د هندوستان جمهوري دولت د مجرمینو ........................... ۱۷۶
څلورم – د ترکیې جمهوریت د مجرمینو د استرداد قانون ....................................... ۱۹۲

## شپږم فصل

د جنایي پولیسو بین المللي سازمان (ICPO) او د جرایمو په مخنیوي او **...................۲۰۳**
لومړی – د جنایي پولیسو بین المللي سازمان (انټرپول) پېژندنه او ......................... ۲۰۵
دویم – موخې او اساسي دندې ............................................................. ۲۱۲
الف – د جرمونو په مخنیوي کې د جنایي پولیسو بین المللي سازمان ......................... ۲۲۲
ب – د مجرمینو په استرداد کې د جنایي پولیسو بین المللي سازمان رول: ................ ۲۲۳
درېیم – د جنایي پولیسو بین المللي سازمان ارګانونه، ژبې، بودیجه او .................... ۲۳۱
څلورم – د افغانستان او جنایي پولیسو بین المللي سازمان ترمنځ دوه ....................... ۲۴۵
پایله ...................................................................................... ۲۴۹
وړاندیزونه ............................................................................... ۲۵۵
ماخذونه .................................................................................. ۲۵۷

# ابراز نظر پیرامون پروژه علمی – تحقیقی

**محترم معاون محقق عمران زکریا عضو علمی مرکز مطالعات منطقوی**

به تأسی از فیصله مؤرخ ۱۱ /۱۲ /۱۳۹۵ شورای علمی اکادمی علوم که به اساس فقره (۱) ماده (۳۲) لایحه ترفیعات علمی اکادمی علوم صورت گرفته، پروژه علمی – تحقیقی معاون محقق عمران زکریا عضو علمی مرکز مطالعات منطقوی تحت عنوان "د افغانستان د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکاری قانون د احکامو مقایسوي څېړنه" به رهنمایی علمی معاون سرمحقق مرحوم عبدالقادر سروری، جهت ارایه نظر به مایان هر یک معاون سرمحقق بخت محمد بختیار و محقق محمد حامد مصلح اعضای علمی انستیتوت حقوق و علوم سیاسی محول گردیده بود، بعد از مطالعه اثر مذکور نظر خویش را چنین ابراز میدارم:

نویسنده اثر با اخذ یک دوره تمدید اینک طبق پلان کاری و مفردات مصوب شورای علمی پروژه علمی – تحقیقی خویش را به تاریخ تعین شده آغاز و تکمیل نموده است. اثر هم از لحاظ شکلی و هم از لحاظ محتوا مطابق به اصول و معیار های علمی – تحقیقی اکادمی علوم تحقیق شده و در آن از اسناد تقنینی مربوط به موضوع اعم از داخلی و خارجی، منابع متعدد و معتبر علمی و معلوماتی به شمول منابع انترنیتی استفاده به عمل آمده است. ساختار متنی اثر تسلسل محتوایی و منطقی دارد که طی آن محقق توانسته است موضوعات مطرح شده را به طور عام فهم تحلیل نماید. در نتیجه دانشمند جوان اثر خود را در یک مقدمه، شش فصل، نتیجه گیری، پیشنهادات و فهرست منابع تکمیل و برای دفاع آماده نموده است.

با در نظرداشت موارد فوق اثر محترم عمران زکریا، یک اثر علمی – تحقیقی بوده و آنرا برای ترفیع به رتبه علمی محقق کافی و بسنده میدانیم و در صورتیکه موصوف سایر شرایط ترفیع را تکمیل نموده باشد، ایشان را مستحق ترفیع به رتبه علمی محقق می دانیم.

در اخیر موفقیت های بیشتری را برای موصوف در پیشبرد تحقیقات علمی از خداوند متعال آرزو میکنیم.

با احترام

معاون سرمحقق بخت محمد بختیار          محقق محمد حامد مصلح

**بسم الله الرحمن الرحیم**

# تقریظ

د افغانستان د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ قانون د احکامو مقایسوي څېړنه څېړنیز اثر، چې د ښاغلي څېړنیار عمران زکریا له لوري لیکل شوی دی، په خپل ډول کې په دغه برخه کې یو نوی گام گڼل کېږي، چې نوموړي ته د دغې لیکنې له امله مبارکي وایم.

نوموړی اثر چې په شپږو فصلونو کې تر مختلفو عناوینو لاندې یوه مقایسوي څېړنه ده، د مجرمینو د استرداد مسئله په کې له هره اړخه څېړل شوې او د یو نړیوال اکټ په توگه ذیدخل نړیوال سازمانونه او د هېوادونو ترمنځ د مجرمینو د استرداد مسئله او د افغانستان د حقوقي نظام موقف تر څېړنې لاندې نیول شوې او په دې لیکنه کې تر ممکنه حده منعکس شوې هم ده.

په پای کې په داسې حال کې چې د نوموړي اثر د چاپ سپارښتنه کوم، ښاغلي څېړنیار عمران زکریا ته مخکې له مخکې د څېړندوی د علمي رتبې مبارکي وایم او د لوی څښتن تعالی (ج) له دربار څخه ورته د نورو علمي بریاوو غوښتنه کوم.

په درنښت

پوهاند نصرالله ستانکزی

د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد

## تقریظ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ بشري علومو معاونیت د ٦/ ٢/ ١٣٩٦ نېټې د (١٥٢) ګڼې مکتوب پر بنسټ د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز د علمي غړي ښاغلي عمران زکریا علمي – څېړنیز اثر « د افغانستان د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ قانون د احکامو مقایسوي څېړنه» تر سرلیک لاندې راته د تقریظ ورکولو لپاره سپارل شوی و، چې له مطالعې وروسته د علمي ترفیعاتو له لایحې سره سم خپل نظر په لاندې ډول وړاندې کوم.

څېړونکي د خپل اثر په سریزه کې دڅېړنې پر هدف، میتود او د څېړنې پر اهمیت بحث کړی او بیا یې دخپل اثر فصلونه په لنډډول معرفي کړي دي.

څېړونکي د خپل اثر په لومړي فصل کې د جرایمو په مخنیوي کې د دولتونو ترمنځ پر همکارۍ او د مجرمینو د استرداد پر تاریخي پسمنظر بحث کړی دی او څرګنده کړې یې ده، چې د مجرمینو استرداد د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو له پراختیا سره مرسته کوي. ورسره یې دا هم روښانه کړې، چې افغانستان د لومړي ځل لپاره د غازي امان الله خان د سلطنت پر مهال له ایران سره د مجرمینو د استرداد تړون لاسلیک کړ، خو بیا هم افغانستان تر ډېرې مودې پورې د مجرمینو د استرداد قانون نه درلود او د لومړي ځل لپاره پر ١٣٩٢هـ ل کال د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ قانون تصویب شو. په همدې فصل کې یو شمیر اثار، چې څېړونکي د خپل څېړنیز اثر په بشپړولو کې ورڅخه استفاده کړې، په لنډ ډول معرفي کړي دي.

په دوهم فصل کې د مجرمینو د استرداد پېژندنه او په دې هکله یې د افغانستان د اساسي قانون، د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ قانون او د افغانستان دقضایه قوې دتشکیل او واک قانون پر مادوبحث کړی دی. ورسره یې د مجرمینو د استرداد تاریخچه، د مجرمینو د استرداد اهمیت، د مجرمینو د استرداد اصول او د مجرمینو د استرداد حقوقي سرچینې هم څېړلي او څرګنده کړې یې ده، چې د مجرمینو استرداد په ټولنه کې د عدالت د تامین او مجرمینو ته د جزا ورکولو په برخه کې مهم او دپام وړ رول ترسره کوي.

په دریيم فصل کې د افغانستان د مجرمینو د استرداد په قانون کې د استرداد ځرنګوالی، د مجرمینو د استرداد موخې او اساسي اصول، د مجرمینو د استرداد شرایط، د مجرمینو د استرداد پروسه او د جرمونو په مخنیوي کې د مجرمینو د استرداد رول په تفصیلي او هراړخیزه توګه څېړلی دی.

په څلورم فصل کې د افغانستان او نړۍ د نورو هیوادونو ترمنځ د مجرمینو د استرداد په اړه شوي تړونونه څېړلي دي. لومړی یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د ایران د اسلامي جمهوریت ترمنځ د مجرمینو د استرداد هوکړه لیک او بیا یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د عربي متحده اماراتو ترمنځ د استرداد هوکړه لیک په بشپړ او هراړخیز ډول څېړلی دی.

څېړونکي د خپل اثر په پنځم فصل کې د امریکا د متحدو ایالتونو د مجرمینو د استرداد قانون، د فرانسې د مجرمینو د استرداد قانون، د ۱۹۶۲ زکال دهندوستان جمهوري دولت د مجرمینو د استردادقانون او د ترکیې د مجرمینو د استرداد قانون په تفصیلي او هراړخیزه توګه څېړلی دی.

په شپږم فصل کې د جنايي پولیسو بین المللي سازمان، د جنايي پولیسو بین المللي سازمان(انټرپول) پېژندنه او د تاسیس اړتیا یې، د جنايي پولیسو بین المللي سازمان موخې او اساسي دندې، د جرمونو په مخنیوي او د مجرمینو په استرداد کې د جنايي پولیسو بین المللي سازمان رول، د جنايي پولیسو دبین المللي سازمان ارګانونه، ژبې، بودیجه، غړي هیوادونه او د افغانستان او جنايي پولیسو بین المللي سازمان ترمنځ دوه اړخیزې اړیکې په تفصیلي توګه څېړلي دي  او د خپل اثر په پای کې یې پایله، وړاندیزونه او اخځلیکونه راوړي دي.

څېړونکي د خپل علمي اثر په لیکلو کې د علمي څېړنې اصول، معیارونه او مېتودونه په پام کې نیولي دي. لیکوال د خپل اثر په بشپړېدو کې له کورنیو او بهرنیو باوري علمي اثارو  څخه استفاده کړې. د مجرمینو د استرداد په اړه یې د افغانستان او بېلابېلو هیوادونو قوانین په تفصیلي، هراړخیزه او په مقایسوي توګه څېړلي دي. څېړونکي د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د مجرمینو د استرداد په اړه علمي او څېړنیز اثر لیکلی دی او په خپل اثر کې یې د مجرمینو د استرداد موضوع په علمي، هراړخیزه او تفصیلي توګه څېړلې ده.

زه د محترم څېړنیار عمران زکریا علمي ـ څېړنیز اثر، چې د څېړنې له اصولو او روشونو سره سم لیکل شوی دی، د شکل او محتوا له پلوه مثبت ارزیابي کوم او هغه د څېړندوی علمي رتبې ته د ترفیع لپاره کافي بولم. د لوی څښتن(ج) له دربار څخه نوموړي ته په خپلو علمي چارو کې دلازیاتو بریاوو هیله کوم.

و من الله التوفیق

څېړندوی محمد سرور احمدزی

دافغانستان د علومو اکاډمۍ د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز علمي غړی

## سریزه

د مجرمينو استرداد د بين المللي حقوق جزا یوه څانګه ده او هغه بين المللي قضايي همکاري ده، چې دولتونه يې په خپل منځ کې د دوه اړخيزو، څو اړخيزو او بين المللي کنوانسيونونو پر مټ، هغه مجرمين چې د عدالت او جزا له تطبيق څخه بهرنيو هېوادونو ته تښتېدلي وي، استرداد او په جزا يې رسوي. د دولتونو ترمنځ ښې اړيکې او بين المللي همکارۍ دې ته لار اواروي، چې د مجرمينو استرداد پرته له خنډ او ځنډ ترسره شي، دغه کړنه د جرمونو په مخنيوي او د مجرمينو په بې زړه کولو کې مهم رول لوبوي.

بشر له پيدايښت وروسته د کينې او يا هم د ګټو د ټکر له امله جرم ترسره کوي او د انسان پر وژنه لاس پورې کوي. مجرم د جرم له ترسره کولو وروسته تل په دې هڅه کې شوی، چې د قانون له تطبيق څخه ځان خوندي کړي. کله چې د مجرم پښه د هېوادونو له پولو تېرېږي، نو د نړيوالې ټولنې ټولنې جنجال پيلېږي. نن ورځ په تجربې سره ثابته شوې، چې دولتونه نه شي کولای په يوازې ځان د خپلو هڅو په ترڅ کې د جرمي پېښو د نړيوال کېدو پر وړاندې ودرېږي، بلکې د دولتونو برياليتوب يوازې او يوازې د هغوی په ګډې همکارۍ کې نغښتی دی.

که څه هم اوسنيو پېچلو ټولنيزو مسايلو د تورنو او محکومينو د استرداد موضوع ډېره د اهميت وړ بللې، خو دا کومه نوې ټولنيزه او نړيواله موضوع نه ده، بلکې د تاريخ په اوږدو کې په بېلابېلو بڼو د دولتونو ترمنځ له تړونونو او معاهدو يې سرچينه اخيستې ده. د اوس برعکس، پخوا د مجرمينو د استرداد موضوع ډېر زيات سياسي اړخ درلود، په داسې حال کې چې د اوسنيو منل شوو قوانينو او د دولتونو ترمنځ د تړونونو پر بنسټ، سياسي مجرمين نه استرداد کېږي.

د څېړنې هدف په افغانستان او نړۍ کې د مجرمينو د استرداد د تاريخي بهير څرګندونه؛ د افغانستان د تورنو، محکومينو د استرداد او عدلي همکارۍ قانون او په قانون کې د تورنو، محکومينو د استرداد موضوع په هر اړخيزه توګه څېړل، په قانون کې د شته ښېګڼو، نيمګړتياوو او تشو رابرسېره کول او د حل لپاره يې وړانديزونه؛ په افغانستان، سيمه او نړۍ کې له بېلابېلو هېوادونو سره د مجرمينو د استرداد هوکړه ليکونو د لاسليکولو اړتيا، د

افغانستان او بهرنیو هېوادونو ترمنځ د لاسلیک شوو هوکړه لیکونو ارزونه او داچې دغه هوکړه لیکونه تر کومه بریده کولای شي د افغانستان او اړونده هېوادونو د امنیت په ټینګښت او د افغانستان او یادو هېوادونو ترمنځ عدلي همکارۍ پیاوړې او د مجرمینو په استرداد کې مهم رول ولوبوي؛ د یو شمېر بهرنیو هېوادونو د مجرمینو د استرداد قوانین په بشپړه او هر اړخیزه توګه څېړل او داچې تر کومه بریده یې د استرداد اړونده مسایلو ته په خپلو قوانینو کې ځای ورکړی او همدارنګه د جرمونو په تعقیب او د مجرمینو په استرداد کې د انټرپول سازمان رول او د فعالیتونو اغېزمنتیا په ډاګه او د جرمونو پر وړاندې د اغېزمنې مبارزې په موخه دولتونه د مجرمینو په استرداد کې یو له بل سره همکارۍ او نورې اړونده موضوع ګانې دي.

د وخت په تېرېدو سره د مجرمینو استرداد نور هم انکشاف کوي، ځکه له یوه لوري د دولتونو ترمنځ د مجرمینو د استرداد معاهدې زیاتېږي او له بل لوري د دولتونو جزایي قوانین هم د مجرمینو د استرداد په اړه وړاندوینې کوي. هغه مقررات چې د مجرمینو د استرداد لپاره وضع کېږي، د بېلابېلو حقوقي نظامونو په پام کې نیولو سره په ټولو هېوادونو کې یوشان نه دي، خو د ډېرو هېوادونو د مجرمینو د استرداد په قوانینو کې پر استرداد حاکم اصول یوشان دي، چې د استرداد پر بین المللي والي دلالت کوي؛ استرداد د ژمنو دولتونو ترمنځ اجباري او د غیر ژمنو دولتونو ترمنځ اختیاري دی.

د مجرمینو استرداد یو حقوقي میکانیزم دی، چې اهمیت یې ورځ تر بلې زیاتېږي. نن نړۍ په لوړه کچه د جرمونو د ترسره کېدو شاهده ده؛ ترانسپورتي وسایلو ته په پراخه کچه لاسرسی او د اړیکو د ټینګولو پراختیا مجرم ته زمینه برابروي، چې د زیانمن هېواد له قضایي واک څخه ځان وژغوري. سازمان شوي او یوشمېر نور خطرناک جرمونه په ملي او بین المللي کچه د دولتونو خوښي او د ټولنو سوکالي له منځه وړي، د استرداد له لارې بین المللي همکاري یوازینۍ اغېزمنه لار ده، چې کولای شي د دغې شومې پدیدې مخه ونیسي، نو ځکه دې موضوع د استرداد اهمیت لوړ کړی دی. د ورځنۍ اهمیت له مخې د مجرمینو استرداد ته په بین المللي میثاقونو کې هم ځای ورکړل شوی، ترڅو د جرمونو د ترسره کېدو مخه ونیول شي. د مجرمینو د استرداد اهمیت د جرمونو په مخنیوي کې دی، که مجرم درک کړي، چې د جرم له ترسره کولو وروسته په هر هېواد کې ځان پټ کړي، نو د

استرداد له لارې به بېرته واک لرونکي هېواد ته وګرځول شي او محاکمه او مجازات به شي. مجرمين د ملتونو ترمنځ د بېلابېلو قوانينو له شتون څخه، چې د هېوادونو په پولو کې پای مومي، ګټه پورته کوي. نو د مجرمينو استرداد يوه اغېزمنه وسيله ده، چې د هېوادونو له پولو څخه بهر د مجرمينو د تېښتې مخه نيسي. نن ورځ دولتونه د مجرمينو د استرداد معاهدو په لاسليکولو سره د مجرمينو د تېښتې د مخنيوي په موخه يو له بل سره همکاري کوي.

د تورنو، محکومينو د استرداد او عدلي همکارۍ قانون د افغانستان له اساسي قانون څخه سرچينه اخلي، چې موخه يې د جرمونو کشف، د تورنو او محکومينو استرداد او بين المللي همکارۍ دي، چې د همدې قانون پر بنسټ د استرداد هوکړه ليکونو په لاسليکولو سره مجرمين استرداد او د جزاګانو د حتمي کېدو سبب ګرځي. په سياسي فقهې او اسلامي حقوقو کې د مجرمينو استرداد، قضايي همکارۍ او د پناه ورکولو موضوع ته، چې له ژمنليکونو او تړونونو سرچينه اخلي، ځانګړې پاملرنه شوې، چې ښه بېلګه يې د حديبيې تړون دی.

د جنايي پوليسو بين المللي سازمان (انټرپول) د ايجاد اساسي هدف د غړو هېوادونو د پوليسو ترمنځ د اړيکو ټينګښت او پياوړتيا او د هغوی له کړنو ملاتړ او د امنې نړۍ رامنځته کول دي؛ د انټرپول ملي ادارې د مجرمينو په تعقيب او نيولو او د هغوی په استرداد کې خپلسرې نه دي، بلکې د اړونده واک لرونکو قضايي چارواکو د امر په ترلاسه کولو سره ورسپارل شوې دندې پر مخ وړي.

په دې علمي څېړنه کې د څېړنې له تشريحي، تحليلي او مقايسوي مېتودونو څخه ګټه اخيستل شوې، چې دغه علمي – څېړنيز اثر يوه سريزه، شپږ فصلونه، پايله، وړانديزونه او اخځليکونه لري. لومړی فصل چې د موضوع شاليد ته ځانګړی شوی، په پيل کې په افغانستان کې د مجرمينو د استرداد د تاريخچې په اړه علمي څېړنه شوې، چې د غازي شاه امان الله د سلطنت پر مهال د لومړي ځل لپاره د ايران له شاهي دولت سره د مجرمينو د استرداد هوکړه ليک لاسليک شو. د څېړنيزې پروژې سرليک ته په پاملرنې، له پخوا راهيسې تر دې دمه په دغه موضوع باندې کوم علمي – څېړنيز اثر نه دی ليکل شوی، بلکې دا لومړی ځل دی، چې په دې موضوع باندې پراخه او هر اړخيزه علمي څېړنه شوې ده. د

فصل په پای کې د موضوع په تړاو یو شمېر اثار معرفي شوي، چې د دې علمي – څېړنیزې رسالې اساسي برخه جوړوي.

دویم فصل د مجرمینو د استرداد پېژندنه او اهمیت تر سرلیک لاندې دی، چې دا فصل تر ډېره بریده د استرداد پېژندگلوۍ ته ځانگړی شوی او د مجرمینو د استرداد تاریخچه په کې په پراخه کچه څېړل شوې ده. د فصل په اوږدو کې د مجرمینو د استرداد اهمیت هم څېړل شوی دی. په دې فصل کې د مجرمینو د استرداد اصولو ته هم اشاره شوې، چې پر بنسټ یې بهرنیو هېوادونو ته مجرمین استرداد او یا هم د استرداد غوښتنلیک ردېږي. د فصل په پای کې د مجرمینو د استرداد حقوقي سرچینې څېړل شوي، چې د استرداد لپاره اساس جوړوي او له مخې یې دولتونه تورن یا محکوم یو بل ته استرداد کوي.

درېیم فصل د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ قانون څرنگوالي ته ځانگړی شوی، چې د همدې قانون احکام د بهرنیو هېوادونو د مجرمینو د استرداد د هغو تړونونو له حکمونو سره، چې افغانستان ورسره لاسلیک کړي، په مقایسوي شکل څېړل شوي دي. د فصل په اوږدو کې د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ په قانون کې د استرداد موخو او اساسي اصولو ته هم اشاره شوې، چې له مخې یې بهرنیو هېوادونو ته مجرمین نه استرداد کېږي. په قانون کې د استرداد شرایط یو پراخ بحث تشکیلوي، چې له مخې یې تورن یا محکوم استرداد کېږي. د تورنو، محکومینو د استرداد پروسیجر، چې له ستونزو ډکه او له لگښتونو سره مل موضوع ده، هم څېړل شوې. د تورن یا محکوم د استرداد غوښتنلیک د لویې څارنوالۍ په تصمیم د هېواد د بهرنیو چارو وزارت له لورې مېشتې سیاسي نمایندگۍ ته وړاندې کېږي، چې د تورنو، محکومینو د استرداد او عدلي همکارۍ قانون له مخې د تورن یا مجرم د استرداد لگښتونه د غوښتونکي دولت پر غاړه دي. د فصل په پای کې د جرمونو په مخنیوي کې د مجرمینو د استرداد رول څېړل شوی، چې د موضوع اساسي برخه تشکیلوي او د دولتونو ترمنځ د تورنو یا محکومینو استرداد خپله د مجرمینو ترمنځ دا وېره رامنځته کوي، چې که په هر ځای کې ځان پټ کړي، بیا هم تعقیب او استرداد کېږي، دغه حالت د جرمونو د شمېر په راکمېدو کې مهم رول لوبوي.

په څلورم فصل کې د افغانستان او گاونډیو هېوادونو او د افغانستان او نورو هېوادونو ترمنځ د مجرمینو د استرداد تړونونه په بشپړ ډول څېړل شوي، چې د یادو هېوادونو له ډلې د

ایران له اسلامي جمهوریت او عربي متحده اماراتو سره د مجرمینو د استرداد هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي. تر ډېره بریده له دواړو دولتونو سره د مجرمینو د استرداد هوکړه لیکونه په علمي ډول څېړل شوي، ښېګڼې او نیمګړتیاوې یې رابرسېره او د نیمګړتیاوو د له منځه وړلو او اصلاح لپاره ځانګړي وړاندیزونه او حل لارې وړاندې شوې دي. همدارنګه د افغانستان، ایران او عربي متحده اماراتو ترمنځ د مجرمینو د استرداد د هوکړه لیکونو حکمونه د یو شمېر نورو هېوادونو ترمنځ د مجرمینو د استرداد د هوکړه لیکونو له حکمونو سره په مقایسوي ډول څېړل شوي هم دي، چې په نتیجه کې د هوکړه لیکونو د غښتلتیا او کمزورتیا ټکي رابرسېره شوي دي.

پنځم فصل د یو شمېر بهرنیو هېوادونو په ځانګړي ډول د امریکا متحدو ایالتونو، فرانسې، هندوستان او ترکیې د مجرمینو د استرداد قوانینو د څرنګوالي لپاره ځانګړی شوی دی. په دې فصل کې د پورته هېوادونو د مجرمینو د استرداد قوانین په بشپړ او هر اړخیزه توګه څېړل شوي، چې د امریکا متحدو ایالتونو د قوانینو په مجموعه کې د مجرمینو د استرداد لپاره هم ځای ورکړل شوی دی. په متحدو ایالتونو کې د محکمې جلسه علني ده او د غوښتنې وړ شخص کولای شي خپلې نیوکې وړاندې او له ځانه دفاع وکړي، چې تر ډېره بریده په دې قانون کې د غوښتنې وړ شخص حقوقو ته پاملرنه شوې ده.

په فرانسه کې د غوښتنلیک له ترلاسه کولو وروسته تر پایه د څېړنې خونه بنسټیز رول لري، چې د غوښتنې وړ شخص او د جرم په اړه بېلابېلې څېړنې کوي. فرانسه بهرنیو هېوادونو ته خپل اتباع نه مستردوي. د فرانسې د مجرمینو د استرداد په قانون کې د غوښتنې وړ شخص حقوقو ته تر ډېره بریده ځانګړې پاملرنه شوې، چې غوښتونکي دولت ته د غوښتنې وړ شخص د تسلیمۍ وروستۍ پرېکړه د عدلیې وزیر له لوري نیول کېږي. که د هند دولت له کوم بهرني دولت سره د مجرمینو د استرداد معاهده ونه لري، نو مرکزي دولت د رسمي خبرتیا له مخې هغه کنوانسیون د استرداد معاهدي په توګه په عمل کې پیاده کوي، چې هند او یاد بهرنی دولت یې غړي هېوادونه وي او په هغو جرمونو کې استرداد عملي کېږي، چې په کنوانسیون کې اشاره ورته شوې وي. د ترکیې د مجرمینو د استرداد په قانون کې د عدلیې وزارت ته د مرکزي صلاحیت په توګه دنده ورکړل شوې، چې د استرداد لپاره د اروپایي کنوانسیون غړی هېواد دی. د ترکیې د مجرمینو د استرداد په قانون کې تر ډېره

بريده د غوښتنليکونو او اسنادو ترتيب او تنظيم ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. په دې فصل کې نه يوازې د څلورو هېوادونو د مجرمينو د استرداد قوانين څېړل شوي، بلکې د همدغو قوانينو حکمونه د يو شمېر نورو بهرنيو هېوادونو د مجرمينو د استرداد قوانينو له حکمونو سره په مقايسوي ډول څېړل شوي هم دي.

شپږم فصل د جنايي پوليسو بين المللي سازمان (ICPO) او د جرمونو په مخنيوي او د مجرمينو په استرداد کې د دغه سازمان رول تر سرليک لاندې دی، چې د انټرپول سازمان پېژندګلوي او د تاسيس اړتيا او د سازمان تاريخچه په بشپړ ډول څېړل شوې ده. د سازمان د تاسيس موخه د غړو هېوادونو د پوليسو د ادارو ترمنځ د اړيکو ټينګښت او له کړنو يې ملاتړ دی او له اساسي دندو څخه يې د جرمونو مخنيوی او د مجرمينو استرداد دی، چې د سازمان د فعاليتونو مهمه برخه جوړوي. د انټرپول سازمان اساسنامه پنځوس مادې او يوه ضميمه لري، چې د سازمان ارګانونو، ژبې، بوديجې او غړو هېوادونو ته په کې اشاره شوې ده. د فصل په پای کې د افغانستان او جنايي پوليسو بين المللي سازمان خپلمنځي دوه اړخيزې اړيکې څېړل شوي، چې د ښخوا په نسبت اوسمهال يې اړيکې پراخه او کړنې يې اغېزمنې دي.

د ټولو موضوعګانو او بحثونو له پای ته رسېدو وروسته د ترسره شوو څېړنو په نتيجه کې پايله لاس ته راغلې، چې همدې پايلې ته په پاملرنې يو شمېر لازم وړانديزونه مو هم کړي دي. د دې لپاره چې لوستونکي وکولای شي ماخذونو ته لاسرسی ولري، په پای کې مو د هغو اخځليکونو فهرست هم ځای پر ځای کړی، چې په دې څېړنيزه رساله کې ترې ګټه اخيستل شوې ده.

د لومړي ځل لپاره په دې موضوع باندې مې داسې علمي څېړنه کړې، چې ښخوا تر دې نه ده شوې او د خت له اړتيا سره سم څېړنه بشپړه او د کار په اوږدو کې مې له باوري سرچينو ګټه اخيستې ده. په دې علمي څېړنه کې، چې د څېړنې د مېتودونو په ګډون د څېړنې ټول معيارونه په پام کې نيولي او له معتبرو علمي سرچينو مې ګټه اخيستې او همدارنګه د افغانستان او بهرنيو هېوادونو د مجرمينو د استرداد قوانين او هوکړه ليکونه هم په بشپړ او مقايسوي ډول څېړلي، کولای شي چې د افغانستان په عدلي او قضايي نظام کې اغېزمن رول ولوبوي.

په پای کې له لارښود استاد خدای بخښلي څېړنوال عبدالقادر سروري څخه نړۍ مننه کوم او الله تعالی (ج) دې فردوس جنت ورته په نصیب کړي، چې د ناروغۍ په اوږدو کې یې زما د کار پر وړاندې زغم لرلی او خپلې هڅې یې نه دي سپمولي او تل یې په ورین تندي راته لارښوونې کړي دي. له درنو استادانو هر یو څېړنوال بخت محمد بختیار او څېړندوی محمد حامد مصلح څخه مننه کوم، چې د لارښود استاد له مړینې وروسته یې د څېړنیزې رسالې په اړه نظر راکړ او همدارنګه د حقوقو او سیاسي علومو انستیتوت درنو استادانو او ملګرو څخه هم مننه کوم، چې د دې علمي – څېړنیزې رسالې په بشپړولو کې یې وخت په وخت راسره مرستې کړې دي.